پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۵/۰۸/۳۰

# هو زه په خپله یمه، احمد یم

## «که کرونده کې ګڼه غبرګه وله وسوځېږي

## لوګر به تکنده غرمه کې چېرته دمه وکړي»

## احمد تکل

ځو ورځې مخکې زما ګران دوست، زما د خوبنې وړ شاعر، په ژوند، انسان او نرۍ باندې باوري شاعر، هنرمند او ژورنالست، احمد تکل کابل ته تللی و، فرهنګي دوستانو، د شعر او کار مینه والو یې، د پنځوس کلنی په پلمه ده ته لمانځغونډه جوړه کړې وه.

زما هیر دي چې زه به یې له کوم وخت نه پیژنم، خو دومره مې په یاد دي چې دی لا زلمی نه و چې د کابل چاردهي د همراد خان نومي کلي ته به زموږ پلرني کور ته د نرخي وطندار په توګه نه، بلکې د یوې فرهنګي کورنی د غړي په توګه را ته.

له هغه وخت نه د ده شاعرانه کاته او زما شوخي ګاني سره لګیدې. شیبې میاشتې کلونه، دریابونه وو، روان وو. داسې وخت راغی چې زما واده و او دی غلی چیرې ناست و، ځه یې نه ویل، خو سترګو نه یې خاموشانه شعرونه وریدل. تاند زلمی و پسې ځوان شو، رادیو ته لاړ، بیا یې په تلویزیوني پروګرامونو کې ځښې واړولې او تر هغه وروسته یې د هنرونو په بڼ کې، د کابل پوهنتون په هنرونو پوهنځي کې ګام کیښود، خو ځومره چې زه پوهیږم دی دوو شیانو پوخ کړ:

ـ له فرهنګي دوستانو سره ناسته(د پوهنتون او رادیو تلوزیون چاپیریال)،

ـ جدي پرله پسې مطالعې،

لکه د تیرو خوا شینیو په څیر، بیا هم په خواشینی سره هماغو سرو، شنو، تورو او سپینو بادونو احمد هم لکه سل ګونو زرګونو او لکونو فرهنګیانو غوندې، د وچې پاڼي په څیر پسې واخیست، د پردیو و طنو د مهاجرت د زهرو مزه یې و څکله، لومړی پیښور، بیا لږ څه لرې سیمو ته لاړ، خو ده له یوه چاپیریال سره هم سازش ونه شو کړای او بیا د خپل وطن او ټولنې په طوفاني حالاتو او څپو کې لکه لامبوزن ور ګډ شو او آخر په پراګ کې رسمي ماموریت او د ژوند او چاپیریال له بدلون سره د ځوانی او شاعرانه مستی نه لږ څه خاموشي او مرورتیا.

او دا دی د ۲۰۱۵ کال په اګست کې احمد تکل کابل ته لاړ او یو ځل بیا یې فرهنګي یارانو قدر دانی وکړ. یو وار ما هم یوه نرخي ځوان(واحد تابع) ته د هغه دیوه زړوری مقالې(دا دنرخ جګړه د چا ده؟) او غږ اوچتولو له پاره مقاله لیکلې وه:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په څیر و لولئ

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_pa_narkh_ky_benarkhi.pdf

او دي ته خوشاله وم چي دا دی په نرخ غونډي ځای کي هم د چغي د اوچتولو له پاره څوک شته، خو اوس مي د احمد تکل له پاره د یوه بل نرخي ځوان او د ده د کلیوال مقاله، د صفي الله عمرخیل مقاله(زما د کلي شاعر،احمد تکل)

http://www.taand.com/archives/54399

ولوستله، د احمد تکل دي کلیوال په ماهرانه او هنرمندانه ډول د احمد هنري فرهنګي فعالیتونو ته اشاره کړې او په داسي ژبه یې بیان کړي چي زه  باوري شوم چي د احمد تکل او ده ته ور ته نورو نرخي فرهنګیانو هلي ځلي وړیا نه دي پاتي. هغوی په خپلو شعرونو لیکنو او نورو فرهنګي هلو ځلو داسي بزغلي کرلي چي نن لکه همدي ځوانانو غونډي مسولانه او عالمانه لیکني کوي. سره له دي چي احمد د کلي د حدودو شاعر نه دی، د احمد شاعرانه روح دومره سر کښ دی چي له کلي، ښار او هیواد نه وزي او د نړۍ او لا نړۍ په باب خبري کوي.

او په پای کي د احمد د هنر د ثبوت له پاره د احمد تکل د مننې  دا خبري:

« نن له کابله راستون شوم. زړه مي د خوښۍ او مننې له ولولو ډک دی، خو اوري مي د ځوان دریځ ټولنې  د لایتناهي مینې او محبت بار نشي وړلای. د مننې لپاره یې کلمات نلرم.

له ټولو  هغو ښاغلو فرهنګیانو چي د وړي په دوهمه نېټه یې د نیمي پېړۍ تکل غونډه په خپلو ویناوو رنګینه کړه، له زړه مننه. نوښت د ځوان دریځ و، خو د ټولو پوروړی زه شوم. دا پور پر ما دی

مننه کابله، مننه ځوان دریځ ټولنې، مننه فرهنګي دوستانو او مننه صدمردی!»

https://www.facebook.com/ahmad.takal.7?ref=ts&fref=ts

کله مي چي د فیسبوک په پاڼه کي د احمد تکل دا خبري ولوستي، ما هم داسي ورته ولیکل:

«ستا ځواني او شاعرانه تکلونه دي تاند اوسي!

ته رینتینی تکل یې،

تل له تکلونو سره اوسه،

د صد مردي هره تیږه، هر غر او کمر د شعر غږونه لري،

برګه کلا، نوري کلاوې، نور کلي، پاس غرونه، جرووبي او نرم «شیرام» هغه چي ما لیدلي...

تل له صد مردي سره اوسه،

تل له «کروندي» سره اوسه،

تل له خپلو ځانګړو انځورو سره اوسه

او تل...

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

ډېر خواشینی یم چې په داسې یو محفل کې نه وم چې ما ته ایډیال محفل و.

ستا عمر دې ډېر وي تکلو سره

ما ته ډالۍ راوړه انځورو سره!»

زه خو یې داسې انګیرم چې زړو یارانو او تنکیو ځوانانو بیا خاموشه احمد وتخناوه، ده هم وخندل او زما هیله داسې ده چې دی لړ نور هم وخاندي، را بیداره شي څکه چې که د بل چا وي که نه وي، زما ور نه هیله دا ده چې لړ څه د شعر په پل قدم ګړندی کړي او د خپل ذهن په ښکلو انځورونو موږ و نازوي.زما هیله دا ده چې پر ده باندې حاکمه او مسلطه خاموشي ماته شي او د چوپتیا او ګوښه نشیۍ پردې څیرې کړي او د چوپتیا له دایرې نه راوزي. ده یو وخت مروره خندا، وچ ډېران ته راوستله:

«ما مروره خندا راوسته په وچ ډېرانه ...»

خو اوس یې هماغه خندا له خپلو شونډو نه مروره ده او هیله ده چې دی بیرته ورسره پخلا شي.

دلته زه د احمد تکل د شعر یوه بیلګه وړاندې کوم. دا شعر احمد په یوه ځانګړي محفل کې اورولی و او ویډیو یې زما په شخصي آرشیف کې خوندي ده:

«هو زه په خپله یمه

تر بوربوکو نه سرګرځنی

تربادو نه ستړی

تر تورې تږی

ترچړې نه وږی

تر داره موړ

ترسلاخی نه خروب

آه

څوک نارې راوهي

په خپله یمه

احمد یم.»

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ